مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالعزيز نائيبي

۲۰۲۶/۰۸/۱۵

# کريغي

تيارو هره ورځ
د زاړه دېوال پر سر
نوي پخځه ايښوده

دننه، په کلا کې
زړه تنګون په ډيرېدو وو

يوې لور له پلار څخه
قلم غوښته

مور په شکاره* کې
ډوډۍ و نه مونده

پلار د کلا دېوال سورى کړ،
چې رڼا راوړي

خو
له دېوال هاخوا
سوځنده دښتو
پاک وخوړ

باد، له ډيره غمه،
سر شکاوه

کريغي يې د خان
تر مانۍ ورسېدې

خان غوږونه کاڼه واچول
پر شيطان يې لعنت ووايه
او توبې يې ايستې

۱۴/۸/۲۰۲۶

*شکاره: د ډوډۍ شکور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولـئ